مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور اخګر

۲۰۲۳/۰۲/۱۳

# د افغانستان جمهوریت د سقوط عوامل

## د پاکستان رول

## (درېیمه برخه)

**په رڼا ورځ د امریکایانو غولَونه**

**له شپون سره مېږې خُرولې، له لېوه سره مېږې ماتولې.** (متل)

سره له دې چې پاکستان له امریکایانو سره د ترهګرۍ پر وړاندې د اتحاد تړون لاس لیک کړی ؤ او امریکایي ځواکونو ته یې هر ډول اسانتیاوې ورکړي وې. بیا هم پاکستان هغه دوه مخي لوبه پیل کړه چې (له شپون سره یې مېږې خُرولې او له لېوه سره یې مېږې ماتولې) کله چې پاکستانیو چاراوکو له امریکایانو سره د افغانستان په اشغال او د طالبانو د امارت په پرزولو کې مرسته وکړه نو بیا یې په افغانستان کې خپله نیابتي، استخباراتي جګړه پیل کړه، په داسي حال کې چې د سپتمبر د یوولسمي په بریدونو کې پاکستان مرسته کړې وه.

ځینې پټ اسناد چې وروسته څرګند شول د پاکستان جاسوسي اداري (آی، ایس، آی) د ۲۰۰۱ز، کال د سپتمبر د یوولسمي په ترهګریزو بریدونو کې مخامخ لاس درلود لکه څرنګه چې (وال ستریت ژورنال) د ۲۰۰۱ز، کال د اکتوبر پر لسمه نېټه ولیکل:«جنرال محمود احمد د (آی، ایس، آی) مشر له سعید شیخ یا احمد عمر الشیخ سره چې د انګلستان تبعه دی او په لندن کې له اقتصاد څخه فارغ شوی دی، د سپتمبر د یوولسمي بریدونو مالي مسؤل ؤ، سعید شیخ د جنرال محمود احمد له هدایت سره سم، سل زره امریکایي ډالر محمد عطا ته چې د یوې اختطاف شوې الوتکي پیلوټ ؤ، ورلېږلي وو، لکه څرنګه چې وروسته د امریکا د فشارونو له امله جنرال محمود له دندې ګوښه کړای شو.» (کریم پیکار پامیر: بررسی وقایع افغانستان، ۸۲مخ)

د پاکستان د (آی، ایس، آی) پخواني مشر جنرال اسد دراني د الجزیرې له خبریال مهدي حسن سره مرکه کړې وه، خبریال له اسد دراني پوښتنه کوي وایي:«امریکایانو هغه ټولې پیسي د دې لپاره درکړې وې چې ستاسو پر سترګو او وریځو باندي میئن وو، که یا یې د دې لپاره درکړې وې چې د دوی له دښمنانو ملاتړ وکړئ او هغوی ته امن ځایونه ورکړئ؟

جنرال دراني:«موږ هغوی ته دوکه ورکړه.»

خبریال:«ستاسو د خبرې پر بنسټ، په دې وروستیو کلونو کې پاکستان یو خاین او دوه مخی هېواد دی؟»

جنرال دراني:«که چېرې تاسو په سرکس کې هم مهاله پر دوو آسونو باندي سورلی ونه کړای شئ، په سرکس کې ستاسو شتون ته اړتیا نه شته.» (هماغه کتاب. ۹۷۸ مخ)

«د ۲۰۰۸ز، کال د جولای په میاشت کې د امریکا د لویو درستیزانو د کمېټي رییس مایک مولن له پاکستان څخه وغوښتل چې د حقاني شبکې پر ضد عملیات وکړي نو د پاکستان د پوځ لوی درستیز کیاني په ځواب کې ورته وویل: دا ډېر خراب وخت دی، هغه نه غواړي په داسي وخت کې خپل دوست ځان ته دښمن کړي چې د پاکستاني طالبانو سره په جګړه لګیا دی.».(کارټر ملکازیان: په افغانستان کې د امریکا جګړه. ژباړن: عبدالباري جهاني.۲۵۷مخ)

د پاکستان منافقت او د امریکایانو تېراستلو او دوه مخي لوبې په اړه افغان توکمه امریکایی، زلمی خلیل زاد وایی:«په پاکستان کې د القاعدې د لوړپوړو غړو د له منځه وړلو په اړه د واشنګټن ټینګار، پاکستان دې ته اړ کړی ؤ چې دوه مخي لوبه پیل کړي، پاکستان له متحده ایالاتو سره د ترهګرۍ پر وړاندې د مبارزې په برخه کې پر همکاری سربېره د طالبانو، حقاني شبکې او نورو سخت دریځو ډلو ملاتړ ته دوام ورکاوه، د پاکستان له خوا د افغانستان د بې ثباته کولو دوامداره هڅې، د هند په اړه د اسلام آباد په وېره کې نغښتې وې.»

خلیل زاد زیاتوي:«د ۲۰۰۳ز، کال تر پسرلي پورې د پاکستان دوه مخي لوبه بربنډه شوه، د ترهګرو ډلو مشران په لوېدیځ پاکستان کې خوندي شوي وو، موږ کره راپورونه تر لاسه کړي وو چې (آی، ایس، آی) هغو ډلو ته پیسي، وسلې او روزنه ورکوي چې د کرښې دې غاړې ته په افغانستان کې بریدونه ترسره کوي، لوړپوړو افغان چاراوکو



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکي په ځیر و لولئ

څو ځلي ولسمشر [بوش] او نورو مشرانو ته له طالبانو سره د پاکستان د مالي مرستي او پټنځايونو په اړه مالومات ورکړي وو، د پاکستان په اړه شواهد ورځ تر بلې زياتيدل خو ولسمشر او نور امريکايي مشران چمتو نه وو چي د پاکستان د دوه مخي لوبې په اړه گام پورته کړي. د طالبانو پر ضد د پرويز مشرف لومړی همکاري د دې لامل شوي وه چي ولسمشر بوش له طالبانو سره د پاکستان د پټي مرستي پر موضوع باور وکړي، د امريکا د بهرنيو چارو وزير، کولن پاول او دفاع وزير رمزفيلډ هم پر مشرف باور درلود ځکه مشرف هغه مهال د خپل رژيم پر ضد، له راپورته شويو اورپکو سره جگړه پيل کړي وه، په داسي حال کي چي د بوش اداره په پاکستان کي د طالبانو د پټنځايونو په اړه بې دريځه وه، په افغانستان کي د امريکا پوځي او ځارګر مشران اندېښمن وو.»
زلمی خليل زاد ليکي:«دا مهال په ۲۰۰۳ز، کال کي په کابل کي د امريکايي پوځيانو مشر جنرال (جان واينس) د ځارګرو لاسوندونو د ارزوني په موخه يو کميسيون جوړ او يوازينی امريکايی جنرال ؤ چي د ۲۰۰۳ز، کال په سپټمبر کي يې په ډاګه وويل چي طالبان د بيا راغونډيدو په موخه په پاکستان کي له خوندي پټنځايونو کار اخلي، ما ياده مسئله له امريکايي مشرانو سره راپورته کړه خو ګټه يې ونه کړه.» (زلمی خليل زاد: استازی...: ژباړن: لطف الله لطف. ۲۳-۲۳۶)
زلمی خليل زاد وړاندې ځي ليکي:«... **تر ټولو ستر ورانوونکی پاکستان ؤ**، ما به په منظمه توګه د ايران د سفير رضا ابراهيمي په ګډون د نورو مهمو سيمه ييزو هېوادونو له سفيرانو سره ليدل، د پاکستان تګلاره زموږ د هڅو پر مخ ستر خنډ ؤ. يو وخت ما او په پاکستان کي د متحده ايالاتو سفيرې (نانسي پاول) واشنګټن ته غبرګ پيغامونه واستول، ما هغو ځارګريزو مالوماتو ته ګوته ونيوه چي د پاکستان د دوه مخي لوبې ځرګندونه يې کوله، پاکستان به د القاعدې يو شمېر غړي نيول خو په ورته مهال کي به يې له طالبانو، حقاني شبکي او حزب اسلامي سره مرستي کولې، د پاکستان تر کنټرول لاندې لوېديځې سيمې د ترهګرو لپاره پر داسي خوندي ځالو بدلې شوي وې لکه د سپټمبر له پېښي مخکي چي افغانستان ؤ. افغان جنګيالي د راغونډيدو، روزني تجهيز او اوسيدو لپاره په پاکستان کي خوندي وو، حتا القاعده هم د خپلو کمپونو پر جوړولو لګيا وه، دغه کار په افغانستان کي زموږ د هڅو او ماموريت پر وړاندې زياتيدونکی خطر ؤ، که پر امريکا بل ترهګريز بريد شوی وای، نو متحده ايالاتو په ډراماتيک ډول له غبرګون پرته بله چاره نه درلوده.» (هماغه کتاب. ۳۷۱-۳۷۲)
په اسلام آباد کي د امريکا سفيرې نانسي پاول له خليل زاد څخه غوښتنه وکړه، له هغو رښتينو ځرګندونو تېر شي چي د پاکستان د دوه مخو کړنو په اړه يې سپيني خبرې کولې، خليل زاد ليکي: نانسي پاول وويل:«پاکستان د باور وړ ملګری دی او د همکاری په برخه کي تر هر چا مخکي دی.» د هغي په نظر پاکستان نه شي کولی هر هغه څه کنټرول کړي چي افغان پولې ته څېرمه په ناکنټروله سيمه کي رامنځ ته کيږي. پاکستاني ځواکونه د حکومت تر اداري، قبايلي سيمې (فاټا) ته ځواکونه استولي وو چي له هماغه ځايه جنګياليو خپل عمليات کول، متحده ايالات اړ وو د يادې سيمې په خوندي کولو کي د پاکستان ملاتړ وکړي، آن افغانستان او پاکستان ته د سفيرانو په يو آزاد بحث کي د ولسمشر [بوش] د اداري تګلاره بدله نه شوه، امريکايي مشرانو دا خبره د پاکستان له خوا د القاعدې د ځينو غړو په نيولو کي د بريا پر مټ توجيه کوله.»
هغه ليکي:«زه نا هيلی شوی وم، يوازې په ځرګند ډول مي په پاکستان کي د پټنځايونو په اړه ځرګندوني کولی شوې، يوه ورځ نانسي پاول زنګ راته وواهه چي د يادو مسئلو په اړه له سپينو ځرګندونو تېر شم. ځکه چي له مشرف سره د کار په برخه کي له ستونزو سره مخ ده.»
ما ورته وويل، زه چي څه وايم سم نه دي؟ هغې ځواب رانه کړ، که هغې ويلي وای چي د پاکستان پوځ جنګياليو ته پټنځايونه او مرستي ورکوي نو موږ بايد دې مسئلې ته نوې تګلاره پيدا کړي وای، ما ټينګار وکړ: آغلې سفيرې! زه هره ورځ هغه استخباراتي مالومات لولم چي حکومت ته د پټنځايونو په اړه رارسيږي، زه نه پوهېږم چي تاسو له ستونزې سره څه ډول چلند کوئ؟ زه وېره لرم، تاسي لکه چي ګواښ نه وينئ، که تاسي يې وينئ او د له منځه وړلو لپاره يې په راتلونکي کي کومه تګلاره لرئ، نو مهرباني وکړئ ما هم پوه کړئ، زه به مو ملاتړ وکړم.
خليل زاد زياتوي چي نانسي پاول زما خبرې له غوږه تېرې کړې او رانه يې وغوښتل چي په دې اړه خپلې ځرګندونې بندې کړم.
«د ۲۰۰۴ز، کال په ژمي کي په نيويارک کي د ملګرو ملتونو د عمومي غونډې پر مهال [بوش] د مشرف کوربه ؤ، ولسمشر د راتلونکو کلونو پر مهال هم مرسته وغځوله خو د پټنځايونو په برخه کي کوم پرمختګ ونه شو.» (هماغه کتاب. ۲۷۱-۲۷۲)
خليل زاد په خواشينی سره ليکي:«ما د يادې ستونزې په اړه خپل ټينګار ته دوام ورکړ، د ۲۰۰۵ز، کال په لومړيو کي ولسمشر بوش ما ته اجازه راکړه چي له مشرف سره په اسلام آباد کي ووينم ... کرزي له مشرف سره زما له ناستي مخکي زنګ وهلی ؤ، کرزي مشرف ته ويلي وو چي د امريکا سفير درځي چي له تاسو سره وګوري، زه پر هغه پوره باور لرم، تاسي چي په هر څه جوړجاړي ته ورسيدئ موږ ته د منلو وړ دي، زموږ دعاګانې له تاسي سره دي. کرزي ماته د آنارو يو کريټ راکړی ؤ چي مشرف ته يې ډالۍ کړم، د ناستي پر مهال پاکستاني ولسمشر آنار نه اخيستل، هغه په ساړه آواز وويل، آنار مي نه خوښيږي، هغه زياته کړه: د زړو لړونکي ميوه مي تنګوي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

مشرف د امریکا سفیر خلیل زاد سره په خپلو خبرو کې، په رڼا ورځ، په پاکستان کې د طالبانو له شتون څخه منکر شو او درې ځله یې تکرار کړه چې طالبان په پاکستان کې نه شته، سفیر لیکي: د ناستې پر مهال مې د طالب جنګیالیو د پټنځایونو مسئله راپورته کړه، لکه څنګه چې موږ او پاکستان د اندېښنو وړ مسایلو په اړه په ګډه کار کولی شو... د طالبانو د پټنځایونو د له منځه وړلو لپاره هم باید لار پیدا کړو، **مشرف پر خپله څوکۍ کې راتاؤ شو،** په بحث کې بدلون ناکراره کړ، ویې ویل:«طالبان په پاکستان کې نه شته، د هند څارګره اداره افغان حکومت ته غلط مالومات ورکوي او افغان حکومت یې متحده ایالاتو ته رسوي.» هغه زیاته کړه چې د پولې دواړه خواوو ته د خلکو تګ راتګ زیات دی، کېدای شي ځینې وسله وال په خلکو کې ورګډ شوي وي، هغه وویل په پاکستان کې د طالبانو پټنځایونه نه شته، که تاسې یې د ټیلیفون شمېره یا ادرس لرئ نو موږ به یې پر ضد اقدام وکړو.
ما ورته وویل: د طالبانو سیاسي مشرتابه په پاکستان کې دی، ژورنالیستان د طالب د ویندویانو په پیدا کولو توانیدلي دي، مشرف په ګونګ ډول ځواب راکړ:«د ټولو هغو کډوالو په منځ کې چې د پولې دواړو لورو ته تګ راتګ کوي دا ستونزمنه ده چې د خلکو دقیق تشخیص وشي، تر کومه چې زموږ مشران او قوماندانان خبر دي، طالبان په پاکستان کې نه شته.» (هماغه کتاب. ۲۷۳)
پاکستان له امریکایانو سره له آره د غولونې او تېراستنې سیاست چلولی دی، امریکایي چارواکي یې له بېلابېلو لارو غولولي او هم یې تر فشار لاندې نیولي وو، که له یوې خوا پاکستانیو چارواکو په پاکستان کې د طالبانو له شتون څخه منکریدل، له بلې خوا یې د هغوی د اوسیدلو اقرار هم کولو، هغه مهال چې«د پاکستان د ( آی، اېس، آی) مشر جنرال اشفاق کیاني یوه ورځ په ضمني توګه دا ومنله چې پوځ یې له القاعدې او طالبانو سره مرستې کوي، کله چې جان کیري د ۲۰۰۹ز، کال په اکتوبر کې پاکستان ته ولاړ نو کیاني ورته وویل چې ملا عمر په کراچۍ کې دی خو موږ څکه هغه نه نیسو چې د سولې خبرو ته تاوان ونه رسیږي. کیاني پوهېده چې ملاعمر په زابل کې دی خو په دې توګه یې غوښتل کیري ته وښیي چې پاکستان په مسایلو کې ډېر زیات رول لري او په آینده کې باید زیاته توجه ورته وشي.» (کارټر ملکازیان: په افغانستان کې د امریکا جګړه. ژباړن: عبدالباري جهاني. ۳۳مخ)

نېټه:۱۴۰۱/۱۱/۲۲ل. ل
نور بیا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ